انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۰/۲۳

# د افغان د ستونزو د حل یواځنۍ لار

له هغه وخته چې د انګریز دولت د پاکستان په نوم نوی دولت د افغانستان او هندوستان تر منځ جوړ کړی او د لوی افغانستان یوه برخه پښتانه او سیدونکی او د هغوی ځمکه یی هم په پاکستان پوری وتړله، له هماغی ورځی بیا تر ننه پوری د افغانستان خلک او دلته ټول جوړ شوی دولتونه د راز راز ستونزو سره مخامخ دی او تر کومه ځایه چې نبښی نښانی شتون لری دا ستونزی به د یوی ورځی نه بلی ته لا پسی غټیږی او پراختیا به مومی، او تر هغه حده به دوام کوی چې یا افغانستان په موجوده بڼه د ځمکی د مخ نه، نه وی لری شوی او یا هم پاکستان.

که تاریخ ته و ګورو نو افغانستان ډیر اوږد او درووند تاریخ لری، او د داسی یوه هیواد محوه کیدنه او ورکیدنه به د یوه هیواد د پاره څه چې د ټولی نړی د پاره یوه ستونزمنه مسئله وی. خو بلمقابل پاکستان همدا پرون په مصنوعی توګه د انګریزی استعمار د ګټو د تامین د پاره په ډیره غیر متجانسه توګه جوړ شوی او ورانیدل او له منځه تلل یی هم همدومره اسان ښکاری لکه څنګه چې په اسانی سره جوړ شویدی. زما په اند ماته د بل هر هیواد او هر ستر او واړه قوت نه د پاکستان په ورانیدو کی د افغانستان او هندوستان رول مهم او لوړ ځکه ښکاری چې دا هیواد د همدی دوه هیوادونو له خاوری نه جوړ شویدی. د هندوستان د دریځ په هکله خو ځانته اجازه نه ورکوم چې د اوس د پاره نظر وړاندی کړم خو د افغانستان د دریځ نیولو په هکله د دی کبله چې یو افغان یم، ځانته دا حق ور کوم چې خپل نظر د نورو وطنوالو سره ، هغه هم د روان ځلوییښت کلنی غمیزی د پای ته رسیدو په منظور چې په مطلقه توګه د پاکستان د نوی جوړ شوی دولت له کبله، د یوی ورځی نه بلی ته زیاتی خواشونکی پیښی افغان ولس ته پیښوی، شریک کړم.

زه په دی باوریم چې که په همدی توګه سل کاله نور هم تیر شی، د پاکستان دولت به د افغانستان د بربادی او تباهی نه لاس وانخلی. د دی معضلی د ختم د پاره یواځی یوه لاره په دوه طریقو موجوده ده او هغه طریقی دادی:
۱- د افغانستان دولت دی بی له ځنډه د تاریخی معتبرو سندونو په رڼا کی، د نړیوالو حقوقی قوانینو له مخی د پاکستان د دولت نه د خپلو خلکو او اشغال شوی جغرافیی د بیرته مسترد کیدو غوښتنه د ملګرو ملتو د امنیت شورا ته وړاندی کړی. په دی برخه کی دی د ټولی دنیا د هیوادونو سره اړیکی ونیسی اود خپل طبیعی حق غوښتونکی دی شی. د دی روا او برحق غوښتنی تر څنګ دی په افغانستان کی اضطراری حالت اعلان کاندی او ټول افغان ملت ته دی خبر ورکړی چې د پاکستان په وړاندی هر ډول قربانی ته تیاری ونیسی، او د ضرورت په وخت کی دی د ټولو خارجی هیوادونو څخه هم افغانان را و غوښتل شی او د لوی افغانستان د جوړیدو د پاره دی هر ډول قربانی ته حاضر شی. دا طرحه شاید ځینو دوستانو ته عملی و نه بریښی، خو زه په دی پوره باوری یم چې د دی اعلان سره سم به د پاکستان د ټوټه کیدو اساسی مرحله را پیل او د شپږو میاشتو په موده کی به د الله ج په اراده او د افغان ولس په هوډ موجود پاکستان د ځمکی د جغرافیی نه ورک شی.

۲- که افغانان او افغان دولت دی طرحی ته تیار نه وی او ځان ورته د دی وړ نه بریښی چې د پاکستان نه به یا په حقوقی لحاظ او یا د جنګ په ذریعه خپل محکوم پښتانه ولسونه او د دوی وطن آزاد کړلی شی. نو بیا دی د ټول افغانستان نه د ملت استازی د یوی واقعاً ملی لوی جرګی، د جوړیدو د پاره را وغواړی او د ډیورنډ بیلونکی کرښی په هکله دی ورسره مشوره وکړی او د موافقی په صورت کی دی د ملګرو ملتو په دفتر کی د رسمی کرښی په توګه ومنی، او لکه د امریکا سره یی چې تړون امضاء کړ همداسی دی د پاکستان سره هم د ځینو خاصو شریطو لاندی دا تړون امضاء کړی، او د یوه کال په موده کی دی خپل ټول مهاجر له پاکستان څخه بیرته افغانستان ته را ستانه کاندی. زما په اند یواځی همدا دوه حالته ( یا د پاکستان نه په هره وسیله چې وی د خپل تاریخی حق غوښتنه او یا ورته د دی حق نه تیریدنه) د افغانستان د روانی کشالی او اوږدی غمیزی د پای ته رسیدو یواځنی لاره ده. که د ځان غولونی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نه تیر شو نوماته بله کومه داسی لاره نظر ته نه راځی چی پاکستان دی دی ته مجبور کړی چی د افغانستان د بربادی او تباهئ نه لاس په سر شی.

یادونه: ښاى ډېر دوستان به راته ډېر په قهر شی چی دا دویمه خبره یعنی د خپل مسلم حق نه د تیریرد خبره می ولی کړی او زه څه کاره یم چی په دی وړه خوله دومره لویه خبره کوم، خو ما په دا ټولو څلویښتو کلونو کی هره ورځ په دی هکله د ځان سر کرل ریبل کړیدی، چی څنګه د دی معضلی نه دا بیچاره افغانان خلاصیدلی شی؟ او بلاخره دی نتیجی ته رسیدلی یم چی د دی لوی غم نه دی خلاصیدو بله لاره نشته. اول لومړی لار او که د لومړی طریقی توان او جرئت نه لرو نو بیا دویمه لاره اوبس. نوره خوښه د واکدارانو او مشرانو ده.

مننه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ